نوټ: اسم کتاب در صفحه ۴ سطر ۲ ذکر شده،





بسم الله الرحمن الرحيم

حمد و ثنا د هغه خدای ته چه انسان ئی په ژبه او بیان لوړ کا او تمیز ئی ورکا له نورو حیوانانو په نطق، او ویا سره او خپل کلام پاک ئی نازل کا په افصح بیان سره په هغه معجز او ابلغ دی له کلام د ټولو بلغا او فصحا ستاینه او سپاس دی هغه خاوند له چه بلیده د نسته بل خاوند او نه بل بل بل د وگړیلو ثنبنش دی دی په انسانان په خوږ و خبرو یالی او د هر ئی بلیغ و ویا ملهم دی درود نامحدود پر هغه پیغمبر دی علیه الصلوات والسلام چه موږ ته ئی راوښوله سمه لار او روده

بیت

دی دی رهبر دکانا تو تر ده جا رسم

دی دی نامور دمخلوقاتو تر ده جار سم

خدای رحمتونه دی وی د ده پر اولاد او اصحابو چه پر اسمان د هدی

رہد ستوری دی او د پیغمبر دگوتمی خلاف عمی کردوی نوای ددین
سمدلار بدلہ موبہ ورکدوای او د رحمت ور بونسکو۔

بیت

دہبدی داسمان ستوری | چی رنای لور پہ لوری
شہید زموبہ می کرہ رو بناند | دوی د دوی خوبہ بچاند

بخاص کرہ د خدای رحمتوند دوی نازل پہ ثلور وپار انو د نبی پر غورہ
ملگر یوا او دہ پہ سیوا د خاندان اما بعد پہ دی پوہ سی چہ دنیا وانسہ
غورہ خاصہ دہ او د نطق تاج ہغہ د کرمنا تاج دی چہ خالق تعالی د
~~غورہ خاصہ~~ آدم پر سر نسکور کی او پیہرہ زمانہ کی خدای تعالی پر انسانانو کی
غورہ شاعران او د دنیا خاوندان پیدا کرل چہ الشعراء تلامیذ الرحمن وگڼل سوا
او د دوی دنیا وی برکلہ داسی خوبری دی چہ انسان زرہ انشراح پہ
موی او د خوبہ وزرہ مرہم وی زہ چہ محمد ہوتک یم او پا صل پښتون
پقندہار کښی اوسم لہ پیرہ دہ چہ پہ ویلو د داسی دنیا وبحث یم او د پښی
او ورخی می ہم دغہ کار دی دا د پیرو قتوند تیر سول چہ ما غوښتہ چہ زہ دپہ

شاعرانو

شاعرانو تذکره و کابدم او د دوی احوال سره راټول کاندم مګر زمانې ماته فراغت نه
ورکاوه او دا هیله مې په زړه کې وه چې سوه ځکه چه پر قندهار د ظلم او د جفا تورتم پروت
وه او هیچا آرام نه درلود او نه فراغت ګاهې به مغولو چپاو نه کړل او ګاهې به د ګرګین
دستم سوران وه اوس چه حق تعالی موږ خلاص کړو له هغو ظلمو څخه او فارغ سوه
زړونه زموږ او زموږ ملک حاجي میرخان علیه الرحمة دوی له قندهاره پاسته
او پښتانه ی د دوی له جوره آزاد کړل نو زما زړه فارغ سو له اندوه او قلم مې راوا خیست
هغه وقت چه زماله اراده ی خبر سو نو موږ د پښتنو دستګیر نور امام المسلمین و
ابن قاتل الرفضه والکافرین شاه حسین ادام الله دولته الی یوم الدین بیت

دپښتنو پادشاه حسین هوتک — په ملکانو کې دی دی لوی ملک
دحاجي میر غلجي زوی ګرزت — خالق تل دوی ګلان داغی

نوی زه وغوښتم خپل دربار ته او ما ته ی تشویق وکا او الطاف ی ښکاره کا
چه دا خپله اراده پوره کاندم او د پښتنو شاعرانو حال سره راټول کاندم خلمه
هیچه زموږ پادشاه او د نیا لم خپلو دریه سره شاه حسین خلد الله ملکه و سلطنته
هیخپله هم د ښې ونیا خاوند او د پښتنو د شعر شو قمن دی نو ما وغوښته چه زړه زرم

...لي سي او د پښتنو د شاعرانو احوال ټول کړي سي ښکاره دوي په ماله
...د پېرو شاعرانو د پښتنو احوالو نه را ټول کړي دي او هغه وقتونه
...زېدم له وګړيو ځخه مې د پېرسنه حالونه او رېدلي دي او اوس هغه هو
...لل الله په غوښتني کا بزم دي کتاب نوم دي پټه خزانه ځکه په دل
...را غلي دي په پټه واو نو ښکاره خالق تعالی دي لمتوله مسلمان
...ن موږ د پادشاه سيوري دي تل دي او دايم په دغه کتاب چه ما
...او سوځ و د جمعه ۱۶ د جمادی الثانی سنه و سنه ۱۱۴۱ هجري
...دره خزانو منقسم دی لمړی خزانه په بيان د هغو شاعرانو چه
...دوهمه خزانه په بيان کی د هغو شاعرانو چه اوس ژوندي دي
...په بيان لښ د هغو ار تنيو او ښځو چه دو پښتو ويند يانه

لمړی خزانه

...د هغو شاعرانو چه پخوا تېر سوي او موږ ته دوي ويناوي ښکاره
...المشائخ قطب العارفين و زبدة الواصلين بابا هوتک عليه الرحمة

تولد دی او دتولد پلار بابا غلجي ورحمة الله عليه چه پخپل وقت کښی مشر ګڼل کیدی د پښتنو بټنیک په التغر کی دیره یدلی و په سنه هجری ۶۶۱ سنه کی او هغه وقت چه لوی سو نو ی کا د خدای عبادت او په التغر او سوری کښو دقوم سردار او بادار و نقل دی چه په هغه وقت کی به ډیر ځل مغولو دار غند او یرغاړه ولوت کاوه التغر او اولان او کلا ری تالا کول بابا هوتک پخپل قوم سره راتول کړل او د سوری غر سره ی پر مغولو شنخره دبو تله دی جګړه کی مغول تالا سول او د پښتنو ګڼدیو دیر و شرل ماته پخپل پلار دا ودخان دا سی نقل وکا چه سوری غر په دغه روځ د مغولو په وینو داسی لجند سو چه پلو مشو د ډیر به بریښنا ملدل کا په دی شخړه کښی پښتا نه لبزاو بی ځواک وه چه د سره مغولو پیتیه راغلل او اخیستدی وکانو یو څو غښتلی د بابا هوتک خپلوان وهل بابا هوتک په لوټ ... دا سی ... بولوله او په غیشوی د مغولو تسړ ته شیرل غښتلو میړ و بیه دا سندره اورېله په جګړه تودېدل تر څو چه سوری غری د مغولو په وینو ولاړه او تول ی پیښا کړل هغه سندره زما پلار علیه الرحمة داسی راته ویلی

بیتو نه

پر سوری غر بل راته نن اور دی || وګړیه جوړ راته پیغور دی

پر کلي کوربانډي مغل راغئ
غښتليو تنګ کړي دا مووار دي
په پښتنخا يې يلغار دي
آدم زعي غښتليو راسي
توري تيري غشي ترې لاسي
زلمو په غشيو کړي وار ونه
ور ورانډي کړي چنل تترونه
زماد زلمو ويني بهيږي
مير څې زغلي او تر هيږي
پښتنو هلي پر غزه بنګ دي
مهال د توري دي ونګ دي
زلمو پر ننګ ټالونه مړه کړي
د پښتنخا مځکې ساته کړي

هم په غزني هم په کابل راغئ
مغل راغلي په تلوار دي
پر کلي کوربانډي مغل راغئ
پر تنګ ولاړ د پښتنخا سي
پر کلي کوربانډي مغل راغئ
د تيرو تورو ګزارونه
پر کلي کوربانډي مغل راغئ
مځکې او غرونه په سر کيږي
پر کلي کوربانډي مغل راغئ
سور غر په وينو د دوي رنګ دي
پر کلي کوربانډي مغل راغئ
دښمن په غشيو مو پليه کړي
پر کلي بانډي مغل راغئ

نقل دي په بابا هوتک د مغولو سره د ير جنګونه وکړل او دارغنداو پوري خوا ته ي وشړل او هر کله به دا تغر او مرځي غښتليو پر دوي ير غلونه کړل او په غرونو

به مغول ننو تل بابا هوتک چه سپین بږیری سو عمری نه اویا کال وه په سنه ۷۴۰ هجری
وفات سو

ذکر د کاشف اسرار شیخ ملکیار چه د بابا هوتک

مشر زوی واو تر هغه پلار وروسته د قوم د مشرتابه بګړی په سر کړه نقل کا
ری چه ملکیار بابا ډیر غښتلی او قوتمند سړی وه په جنګو کی به د لسو تنو سره به وه په هغه
سنه چه بابا هوتک وفات سو ملکیار بابا د پنځه ویشتو کالو زلمی و هسی وایی چه ملکیار بابا
د سیوری په التو کی ډیر پهلوان را تول کړل او هلته ی کاریز وښودل کښېنل او خپل زلمی ی په
کښېنتو کړنو وکمارل مغول چه په دغو ودانیو خبر سول پر سیوری ی یرغل وکا او د
ملکیار بابا سره ډیر سخت جنګونه وسول په دغو جنګو کښی د پښتنو مین ورانی سوی او ځینی
ولاړل مړه ئی او ښه وب ته ځنی هم وخاته وانزی خواته هلته ی خپل زلمی سره یو تول او ډیر
راغلل مغول ی وشړل او سیوری ی بیا ودان کی

هسی نقل کا چه په سنه ۷۴۹
هجری کی په پسرلی د ترناب ډیر ډک سو په سختو نیز واوه په یوه میاشت کی چه نو نو ند
او خوړ راه کت غاړی غاړی بهیدی ملکیار بابا چه د ترنک ښخ ووته راغی هسی سندره ی
ی ویلی

سندره د ملکیار بابا

ترنک بهیږی ترنک بهیږی ٭ غاړی ترغاړی ٭ زما زړګی خو خپل لالی غواړی

که مړ ذره مړ وږده + د ترنګ مړوده + خاوند درې ته + چه دهرکی مومی + زما خپله سوده
که نیز دی نیز دی + نیز د بیلتون دی + نیزه نیز ورمی + په ویرژ مړلی + په غم مړ بون دی
که اوړی اوړی + په دره می اوړی + دا اوسه وچ کا + د ویر نیز وند + بل د ویر په زور دی
نمنځنه یوسه + سپینی سپوږمیه + ورته ووایه + چه ترنګ تال کړم + ستا له خوا تکیه
که خپرو خپرو + او بوسوان کړی + بل ملګیار دی + پاته لیار دی + سوب دی جانان ته دی

نقل کا چه ملکیار بابا دا سندری وویلی د خاوند په قدرت ترنګ یو اوبو دلړګی ماوی او دلته د رود
دیوی څنډی او بلی څنډی په تلو او غږ دبعن بند سو په ترنګ یو پل جوړ سو میار بابا هم
پردی پل تیر سو او خپل مقصد ته واصل سو   نقل کا چه یوه ورځ ملیار بابا
د خپل تره توبخی کور ته ولاړ او د خپل تره زوی نور بابای ولید چه عشقی تیرة کاملید څنګی پښتنه
وکا چه تربوره دا څکړی هغه ویل د مغولو په جګړه کی ستا ملا تړم ملیا بابا دعاه کړه ورته
چه تربوره تل سو یمن او سهی وایی چه هر وقت به نور بابا په جګړه کی بری موند او ماته ئی د هیچا
په یاد نده   هسی نقل کا چه یوه ورځ د مغولو تا مال پر سیوری راغی او هغه وقت
د ملکیار بابا په کلا کی څوک نه وو پیرته له ښځمینو نور بابا چه خبر سو ژر ئی ځان هغه کوت
ته ورساوه او په یوه تن ئی مغول ټول او ډیری مړه کړل دا قول د ملکیار بابا د دعا برکت و

ذکر

ذکر د مقبول سبحانی غوث صمدانی شیخ خربنون صاحب رحمة الله علیه د پښتون ! با
د کسي د عبدالرشید بیهقي و خاوند تعالی ده ته ښکاره کمالات او کرامات ورکړي و د خدای
په عبادت به بخت و نقل کا چه د پلار په ژوندکی لار رخصت سوا و د خپلو اولادو سره
راغی که کسي شخ غوري مرغن ته او کله به و لاړ د غندان غره ته او هلته به ی خدای تعالی
ستایه او لمانځه او په کال کی به یو وار تلی د خپل تره بیټنی نیکه لیده نه به ی کوله او پیسله
به ی هم زیارت ته ورتلی خربنون بابا د شیخ اسماعیل سره چه د بیټنی نیکه زوی ؤ لوی ملګری
او هغه وخت په خربنون د کسي غره غندان ته تلی او اسماعیل بابا په ده پسی د ډیر
و شړل سهی والی چه یو وقت خربنون بابا او اسماعیل د سربنۍ او بیټنی نیکه په مخ کښی
ناست وو دوی کور و د کسي په غره تو خربنون د پلار او تره لخوا په تګ او مخ رخصت
ماذون سو اسماعیل نیکه داسی زاری وکړلی

که یون دی یون دی + مخلکی بلیتون دی + له کسی غره شخ + خی خربنو ندی
که وروره ورورره + خربنون ورور + ته تجبلیتون کړی + زما او ییر ته ګوره
په پچی مرغی له + تورنی کړی له + همزولی یا ته + شخ شه برغی له
د خدای د پاره + خربنون یاره + چه بیرمو نکړی + زموږ کهول وا ړا؟

مړه می ریږی + یار می بېلیږی + بیاتون ی اوړی + ځان پدسو ځیږی

نقل کا په اسماعیل بابا خربنون بابا هسی عبرګون وکاوه

ځلوریځ دخربنون بابا

بېلتانه نار می وسو په کور باندی
له خپلو اوږه بیلیږم په سر وسترګو
اسماعیل ستانا روحی زه ګی میری کی
نه هیریږی که می بیا نه ستا یادی کی
څه څه په اربه دیون می ګی یخ کړه
ستا سی یاد یمی وی لبس زړه وسیځ نه

نه یو هیریږم په به ڜوی لیږیس په و باندی
دواړه ستر ګی می په وینو دی ڜو باندی
بېلتانه خربنون بیا له تا پردی کی
په چپه وو ویر به پری سی زړه مراندی
دیانه ڜوری به اچوم وترخ نه
که دا محکه غوزوند تهوال شی لاندی باندی

نقل کا چه خربنون بابا ولاړ په مرغه کی هیشت سو او هلته هم وفات سو په کال هجری ۴۱۱ و سنه ورو سته ی زامن هم په غوره مرغه کی او سیدله او دکا سی اولاد بیا مرتر ولاړه دکسی غره او پښین په لتو کی هیشته سول او دکند او زمند اولادو نه جباره سول او ولاړه ل دنګرهار او خیبرا وپیښور لمتی ی وینو لی

ذکر د قدوة الواصلین مظهر تجلیات الهی شیخ متی خلیل غوریا خیل سړبنی علیه

[1] الرحمة

الرحمة الله الولي شیخ متی د شیخ عباس زوی و چه عباس د عمر او عمر د خلیل زوی و خلیل
د غوریا غوریا د کند ابن خرشبون زوی و چه حضرت سربني قدس الله سره له زامنو څخه و
زما پلار علیه الرحمة و مانه داسی نقل وکا چه د خرشبون علیه الرحمه مرګ په مرغه کی و
او اولادی هم په ارغسان او مرغه او پښین کی سره خپاره سول ځینی ورڅول د
ژوب او کوږک غرو ته او امران او حسن د شیخ متی ورونه په سخه غره او سیدل
چه وروسته د مشرورور په نامه مشهور سو د خواجه امران غرا دبی بی خالا دده ی
غوره په پښین کی و چه هوری ی زیارت دی یو بل ورور ی و په ګرمام کی ښخ دی
نقل کا چه شیخ متی قدس الله سره په کال هجری ۶۲۳ سنه زیږیدلی واو په عمر د پنځه
شپیتو کالو د ترنک له روده په غاړه وفات سو او په سخه غونډی لویه ښخ دی چه
کرامات بالله سی نقل کا چه په سخه غونډی هیڅ اوبه نه وی او ده لی ډلی پښتانه او اولاده
چه په ده وبی دده زیارت ته تلل د ترنک له روده به ی اوبه ور سره وړلی یو ورځ
شیخ محمد زاهد دده مشر زوی دده په زیارت کی د تنه دیر تږی وکه ی کټل د متی بابا
له قبره سره نژدی اوبه را د غوړ خیدی او هلته یا نده چینه پیدا سوه داوبه تر
اوس هم بهیږی او زایرینیه علی‌حسبی نقل کا چه شیخ متی بابا لوی زاهد او عابد

او په خاوند مین سړی وده اولاد و لاړل او په پیښور او بنر بنی کی میشته سول او بلته له دوی څخه لوی لوی ستانه پراوټل شیخ زهیر د شیخ امران څخه روایت کا چه شیخ متی بابا لوی عالم او د دین مرشد و په غندان کی یی یو کتاب وکښلی چه نوم یی و د خدای مینه په دغه کتاب کی متی بابا خپل شعرونه هم وکښل او دا یی مناجات ونه دی ویل چه د پرونه ی ویلی کول دغه یو شعر بالخیله بیلاړ او زیدلی وچه نقل یی کاندم

شعر

پر لوی غرو هم په دښتو کی	په لوی سهار په نیمو شپو کی
په غاړه بوغ او په شپیلکو کی	یاد وی ژړلو په شپیلو کی

هول ستا د یا د ناری سوری دی

دا ستا د مینی سندار ی دی

جنډی زرغون که په بیدیا دی	د ببرځی څوانه په خنداد ی
ترنک چه څر دی په ژړا دی	دا هول اغیز د مینی ستا دی

هوله ښکلال دی ستا له لاسه

ای دپاسوالو پا سه پاسه

که لمر سرو بناندې ې سپین دی | یا د سپوږمیه تندی ورین دی
که غرډی ښکلی پرتمین دی | لکه هنداره مخ د سپین دی

ستا د ښکلا دا پلوشه ده
دا یو سپکه ننداره ده

دلته لوی غرونه زرغونیږي | د ښروندو ږمی پکښې چلیږي
بورا وی شا وخوا کیږي | سترګی لیده وته ی هیښیږي

لوی خاونده لتوارتر مې
تل د نړۍ په ښکلایده ی

خاوند ښکلی ستا جمال دی | ښکاره ی لوی پلو کمال دی
که ورځ که شپه که پری کال دی | ستا د قدرت کمکی مثال دی

ستا دلو رو نو یو رڼا ده
دلته چه جوړه تماشا ده

زړه می دا ستا دمینی کور دی | سوی دعشق په سوځنداور دی
ربی وتا ته ستا پرلور دی | بیلدی هیڅ دی ورکړی پلور دی

ستا د جمال په لیدو بنا د دی

که نړوی د غم سوز برباد دی

په غزو کی ستا د عشق شیبلکی دی | د دی نړی په عشق سمی دی

که غنچه که وو که پنډه نړی دی | ستا د جمال څری هر شی دی

چه پر دنیا می سترګی پری سوی

ستا د جمال په ننداری سوی

نه هسک نه محکه وه تور تم و | تیاره خپره وه ټول عدم و

نه ابلیس نه ی آدم و | ستا د جمال سو چه پر تم و

چه سو ښکاره ښکلی دنیا سوه

ری خلق

د پنځ پر لوری ی رڼا سوه

زه چه خبر ګند پر دی دنیا سوم | د ښکلی مخ په تماشا سوم

ستا پر جمال باندی شیدا سوم | لیلی ستی ی اخلا سوم

په ژړا ژاړم چه بیلتون دی

بیمه پردیسی بل می تون دی

ذی جاری

د ژړو

وګړي يو ولي متي ښاري | سوري هي اوري غاړي ټالوي
څه غواړي څه وايي څه بامري | خپل قتون او کوم وکلي مزاري

چو هغه چه پيل سي ينمه خواسي
تلک دبن په لور ژړا سي

نقل کاوه سي چه د شيخ متي عليه الرحمة کتاب د خداي مينه به تل دده پر نديره پروت و او وګړيو به هغه پاره کي به غول او هر چا به ويل نو به ي ژړل هغه وخت چه مغول راغلل هغه کتاب ی واخيست او ورسته شوه څرګنده چه څه سو

ذکر د جهان پهلوان امير کروړ زوی د امير پولاد سوري غوري نقل کا د بدة الواصلين شيخ کته متي زی غوريا خيل په خپل کتاب لرغوني پښتانه کي چه دی نقل کا له تاريخ سوري څخه چه په بالشتان ی لتلی او صوندلی و شيخ کته عليه الرحمة هسي وايي چه په تاريخ سوري کي راوړي چه امير کروړ د امير پولاد سوري زوی و چه په کال ۱۳۹ سنه هجري د غور په منديش کي امير سو او جهان پهلوان ی باله وايي چه د غور کوټونه او د بالشتان او خيسار او تمران ماڼۍ ده بر کوشنکی پتول وينول او د رسالت له تسهول ی په خلافت کی ده ډير لو ملکونه وکړل نقل کا چه امير کروړ ډير غښتلی او پهلوان و په يوه

تن له سلو جنګاورو سره جنګیدی غندی نو کروړ بالد چه معنی ی ده غلی او سخت وانی چه امیر کروړ به په دوی زمین د زورکی وو اوهستدی ساتی درلووده چه کهتت دمندیش پشان واو په دغه ځای کښې ښکار کاوه او عشرت په تاریخ سوری کی راوړی چه دا امیران له پیړیو په غور او بالشتان او بستکی واو دغه سوریانو می له اولاده دی چه د سهاب له پښته و

امیر پولاد په هغه دعوت کی شریک وه چه ابو العباس سفاح د بنی امیه سره جګړه کړی له او ابو مسلم ی هم سرستی وه تاریخ سوری محمد ابن علی البستی داسی کښلی دی چه د عباسی دعوت په جنګو کی چه امیر کروړ له میری سوبی وکړی نو ی دا بیتونه وویل چه دیارلندی تر لی هغه وادی په شیخ کته علیه الرحمته تاریخ سوری را نقل کړی دی

ویاړنه د امیر کروړ جهان پهلوان

زه یم زمری پر دی نړی ملا اتل نشته | په هند وسند وپر تخار او پر کابل نشته
بل په زابل نشته | لما اتل نشته
غشی د من می ځی بر یښنا پر میرځمنو باندی | په ژوبله یوځم پر غالم پر تښتید و نو باندی
په ماتید و نو باندی | لما اتل نشته

زما د بریو پر غول تاویږی هسک په نمنځ وپویا می | د آس لسور می مځکه ریږدی غرونه کاندم لتاړه

کرم ایوادونه اوجامه   لا اتل نشته

زما د توری تر شپول لاندی دی هرات و جروم | عرج وبابیان وتجار بولی نوم زما په اودوم
زه پیشوندویم پیروم | لا اتل نشته

په صحو زما نشی لونی داری د بنین راشحه | د هیره نوالرو دیر ځنډو څم تبنتی پلن راشحه
مرپلی شه سون راشحه | لا اتل نشته

د نه رنج سوبه می د توری یخ سور وکره | پیادار ک می لوړاوی د کول د سور ولمه
ستر می تر بور وکره | لا اتل نشته

خیلو د گروره لور پیرزوینه لوم | دوی پیادینه سنبه بامم بنه گروزنه نوم
تل ری وونه لوم | لا اتل نشته

په لویه عروجی دنیا دروهی نه ځنډیږی بتال | نهری زما د نوم می بولی پر دریغ ستا یوال
پوره څو شپو میاشتو کال | لا اتل نشته

شیخ کته علیه الرحمة لتاریخ سوری نقل کا چه امیر کروړ عادل او ضابط او د ښهی دنیا خاوند و
ده به هر کله شعر وندویل ۱۵۴ سنه هجری د پو شنبنج ځنګو تبنی مړ سو ، و ترده وروسته
ی ښه وی امیر ناصر ایوادونه ضبط کړل او د غور او سور او لبست او زمین داور پر محکو
خاوندسو

ذکر د شیخ اسعد سوری علیه الرحمة

شیخ کته په کتاب کی د لرغونی پښتانه تاریخ سوری سی نقل کا چه اسعد سوری په غور کی اوسیدی او هلته د سوری خاندان په پادشاهی کی دیر عزتمند و شیخ اسعد د محمد زوی و په کال سنه ۴۲۵ هجری په بغنین کښی وفات سو شیخ اسعد علیه الرحمة دیر ښه اشعار وایل نقل کا چه سلطان محمود غازی پر غور باندی د امیر محمد سوری رحمة الله علیه سره جگړه وکړه او په آهنگرانو کی ی محصور کا په دی وقت شیخ اسعد هم د آهنگران په کوټ کی و هغه وخت چه سلطان محمود علیه الرحمة امیر محمد سوری ونیوه او بندی ی بوت غزنی ته نو امیر محمد سوری په خوار ازره وراو عادل او ضابط امیر و له غزنی ته د بند مړ سو او شیخ اسعد چه دوست وو د امیر محمد سوری پر مرگ ی داسی ساندی وویلی چه یوه بولله کی چه قصیده په عربی ده

وله فی القصیده

د فلک له چارو څه وکړم کوکار ۔ ژمولوی هر گل چه خاندی په بهار

هر غوټول چه په سید یا غوړېدو کا ۔ رژوی ی پاڼی کاندی ناز پنار

دیر عزتمند د فلک څپیړه شنډ کا ۔ دیر سروڼه کا تر خاورو لاندی زار

د واکمن لسره ټول پر یاسی مرسی ۔ د بی وزلو دینی توی کاندی خونخوار

چه لبر مېدی زمری رپی ز نګلو کی ۔ لاو کوبه ی داری تیرو جیار

هم ی عشتی سکنی ډال د ژوبلورو ۔ رستهان ځنی ځغلا کاندی تیدار

چې ملاوې نکړي پرې پغښتلیو

پیوه گردښت ی پر یاسی لبرمه
څه تیري شه ظلم کاندي اې فلکه
پو پیر تړلو لور نکړي پرېږده لراړیه
هیڅ روغی ی په زړه نشته ستاله خوره
له تیر یودي اوښې تماشې له اور بڅیو
نبه لاس واخلې لحوز نبه لوري
نبه زړه وسوځوي په هیڅ باندې
نبه وصل کړې یین لبل مینه
ستاله لاس دي پراته ژړبل نه گیروې کا
کله غوڅې کاندي مړا نوې دزړه گیو
کله تکې واچوي پر ناڅه ولیو
کله غورځوي واکمن له اوړ پلاز ولو
زموجیر ذړه لو دنن پیا دعشق ووشیته
پر سورلو باندې دیر پر یووت لیا سه

دا فلک سپر وکا څه کا بې گزار
زړې عشق نه لنډي دي زړې سپار
ستاله لاس نري هیڅ گل بلبله خار
پر نتلیو او سوي دغم نا تار
بلبلوي په ژړا ژړ مین لیار
چیني ژړې پورت ورت ستاله شنار
نبه ملا کړي لبې وزلو له تړار
ای رفاقت
نبه پر لونړي له گردښته له ملار
نبه در ملي تپونه دا فگار
پر پلو ته تپي زړه وته ښکار ځار
کله تیر باسي وگړي هو بنیار
کله شیري کړي گریوان دښمني چار
کله کښینوي پیخاور و کې بادار
و دڅو بلله په دي عشق هزار
محمد واکمن چه ولاړې پیبل دار

دستایی قصیدی لری په بوللی دی محمد ابن علی وایی په ښته کښ مادره دلبولو عنت کتاب ویدی او ده ځغد ځځمی دغه بولله په د محمد سام علیه الرحمة ستاینه ده کښلد

القصیدة فی المدح

سپرلی ښکلونکی بیا کړه سنګارون | بیای ولونل په غرونو کی لالون
مخکه شنه د ښونه شنه ښی شی سوی | طیلسان زمردی واغوسته غرون
دنیان مشاطی لاس د مجید ودی | مرغلرو باندی وښکلل ښو ن
دغنچو لو جنډی خاندی وریدی ته | زرغونو ښو کی ناځی زلمی جون
لله ناوی چه سورتیک په تندی وکا | سی وګانل غنچو لو سره پسولون
مرغلری چه اورد و خونو لیه | پڅلای سوه راند خپاره د ښتون

په بربنا په بڼغ د چو نیو لغو بیده سی
د زلما تاپې داغلې دی په رجنب یو
د پو پلو پخ سور کړې پسرلی دی
د هندارو په څېر غرونه سپین دیرنګین دی
پخوا زخنګ غوږ لخنګ لخوږلی څګوند باسی
نند چو نهی پستا په د جنډیو موږ سی
د ښنسب د کهاله خپلی لمړ دی
د بندو او روی درست ابو اد غونکړ
پر اباسی په دبری پیر نیلی سپورسی
نه ی ثوکه پخ ترمری د میر ځمنو
د اسلام د دین شهاب د بری لمر دی
هره پلا په دی په هند وسند یر غل کا
په پسرلی په ی تیږون په اټک وکا
نه به د لعلی غندی روڼ ستوری په کهیسک ځلی
نه به دا وی ځګړن د سپینا پلوری

توا پخنډی سره پیو دی اشلکون
لکه پخلید عنتی کاندی مکیزون
یو د بل پخاره اچوی لاسو ن
په پرواو روباندی ځل وکا لمړو ن
لکه شل باتی شا کاندی سیندون
نند موږ سم د سلطان لپضتون
د پسرلی په دود و دان لده رغون
له قصداره تر دیبل ی یو لون
پلا هوری د میرانی گزارون
نه ی ثوری تر تهیکبری کلک دالون
تور ستهان ی کړ رنا په بجها دون
ربنوی توره بنری په شهابون
خاره خاره ی کړی تری سو للدزیزون
که څه پور تدسی لغوره دیر میرون
نه به بری ثوک د هند خپاره بنهرون

به خوګ زلمی د غور سره راغونډ کا
يو نخاوند شهاب الدين دی چه ی وکا
په جوپو جو پو جګړن ی هند تړيون کا
شن پسيند باندی تير يدی ير غل کاندی
څيان سيندی هم لواړه ايلا ی کا
پهرکال آتک دده هند راغلی کاندی
پښتو نخا ښکلی زلمی چه زغلی هند ته
زړغونی ضتی اغوستی وی دی زرونو
هر ګيهيځ چه لمر خر کيږی له خا تيږه
که بريځروی له غرمه وی که بر ملوی
د شهاب جګړن به نه کنيني لږ غلو
زمری کله کاږی ځان له بر غلګ يو
يا به جګ کا د بر يو رنګي پهنډ ګی
يا به وران کا بود تو تونو د بمبهو
پر ناوی سی ته تل ددين شهاب

دداوس توری به چری کا ځلون
په برلوری هر ايواد ته ير غلون
چه دغور بادار همت وکا زغلون
په پرتم ی زمری رير دی په زنګلون
پر اوږ وويهی د غور يا نو به ايرون
غوره وی په ښتو وخيل پاسته سالون
تو آغليه پيغلی کاندی اتهنون
بت بيد يا هم پيو للی وی ځانون
څو چه يو نا د لويديځيه پخنوون
که ګرمل که لمر لويده له تر ملون
نه به بر يږدی دا زلمی ځيل بهيرون
څوی نکامات متيون و ميږون
يا به بيږدی هم پدی ځپار سرون
يا به لسبره کاندی پو بيو ايوادون
نوم د تل وه به دی ځ په نمز دلون

خورا نه سی ستا پیغوره هسې لوسه | څو چه نشت کړی له نمری بود تو لون

ستا پیژندمه د خاوند لوی څښتن وی

سوزه خو ستا پرسته یونه څو چه یون

ذکر د زبدة الفضلاء ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی رحمة الله علیه

په لرغونی پښتانه کښی سی حکایت کا شیخ کته رحمة الله علیه چه ابو محمد هاشم د هلمند په سروان په سنه ۲۲۳ هجری قدسی زیږیدلی او په لبت کی ی لعلما او فصحا ته لوستنه وکړه او ورسته ورپسی عراق ته یی پلو طو د لیو اشمد شخه سمع وکړه او ابن خلاد چه څرګند و په ابی العینا سره ی په بغداد کښی عمروند تیر کړل او له هغه دی دعربی بلاغت او اشعار و لوستل او په کال سنه ۲۹۴ هجری قدسی له عراق بیا ته راغی دری کال وروسته په بست کی وفات سو نقل کا چه ابو محمد یعربی او فارسی او پښتو شعرونه ویل او هغه وقت چه دده استاد ابن خلاد پیټر ګوره ونه سونو ده بری خدمت کا او دهغه شخه بدی خوا به شعرونه په ادب کی د عربو او ویدله ابو محمد عربی شخه په پښتو دخپل استاد د پیر شعرونه هم را ډرمی دلی دی ابن خلاد چه یو ظریف او ادیب سړی و بیوه شعری دی هم ستایلی دی او ابو محمد هغه شعر داسی په پښتو راوړی دی

شعر

زړه هم بنده دنیا کاندي چه ي وینه
د خاوند پلاس کښې بند او د رېمون

زبور ورله ورځي دنیاي اروی
دوی هم خاوندان ترې کي پوه ه

له دوی هم ي ځني ورک سوي تلي
په نزي کي پنځره وي پېش نه دون

که بډای سوځي ولولي خلق وایي
دا دنیا ده رښتیا ینه له ړشتون

که بي وزلي ووایي رښتیا خبره
تور ووایي دا خو سوځي دي تیرون

سو دی هم شنډي په چا له لویه برخه
دوی هم د خاوند برخاي پرتمون

دوی هم ژبه ده له خوک زبور پیرون
ده وسله که څوک پکا مني قانون

نقل کا چه ابو محمد په پښتو یو کتاب کښلی و چه په هغه کښې د عربي د اشعارو فصاحت او
بلاغت بیان کړی وا او نوم ي و د سالو وږمه

ذکر د عارف رباني برهان الواصلین شیخ تیمن رحمة الله علیه زما پلار
قدس الله سره لکتاب د بستان الاولیاء چه شیخ المشایخ بستان بړیڅ کښلی دی پکال
۹۵۶ سنه هجري قدسي دا سي نقل کا چه شیخ تیمن د شیخ کاکړ علیه الرحمة زوی و ځکه
چه دی د غور بري خزانه و لاړ او هلته میشت سو او خلق ي اولاد اوس پکا کړد کښ

نشتمیري خو په اصل دوی دکاکړ اولاد دی او دتیمن رحمة الله علیه زامن او عابد او ولی و
نقل کا چه کاکړ بابا لا ژوندی و وتیمن لغوره راغی او پس دوب کښی دکاکړ بابا بیدندی وکړه
بیا وروسته او په گهوران کښی او دسید او دعلاء الدین حسین شام پر زمانه کښی وفات سو
دتیمن بابا دغه شعرونه زما پر زړه لبستان الاولیاء تحفه نقل کول او ماله تحفه وادریدل

شعر

گیهیځ زما دلبر چیره سوه　　زما پر کور دوی زما ره سوه

د بلیتون ورځ توره تیاره سوه

ږغ سونا څا په چه بیلتون رغی

زړه می لړی وبرینی شین دی　　پښې ژاړم تحفه نادرین دی

زړه عوت له او بشوی سادین دی

پښول نولیږم چه تا خوان نی

نه به بیایم نه به بیا راسی　　نه به تیاره شپه زما زما راسی

نه به شپې را ته پیخلا سی

بیلیږی پیری اوس دیونی نی

د ښمنتن یاردي هیر مي ندکړي — آغلیه مخ په پډ یا ندکړي

اور بلدي پر پینبوري واندکړي

پر ما د بل اور کړووڼ داغي

ذکر د کاشف اسرار عرفان شیخ بستان بړیڅ قدس الله سره العزیز زما پلار علیه الرحمة لقد ما تحمد روایت کا چه شیخ محمد بستان په قوم بړیڅ و په مینوراوک کې کوروده پلار محمد اکرم رحمة الله علیه هم د خدای ولي واو د مینوراوک راغي بلمند پر غارۍ په یوه کوډله کښ اوسیدی او د خالق په عبادت بده و نقل کا شیخ بستان له پلاره ډیر فیض و موند و په ځوانی ولاړ هندوستان ته او هلته په بلو بنار ګرنیدی او آثار د قدرت یې تماشا کول او بیغه وقت چه وطن ته راغي په ۹۹۸ هجری ی د اولیاء الله په بیان کتاب د بستان الاولیاء کیښی او زما پلار رحمة الله علیه دغه کتاب په مینوراوک کښ د حسن خان بړیڅ په کور کښ لیدلی وچه په دی کتاب کښ شیخ بستان علیه الرحمة ډیر و پیغمبر اولیاء حالونه او کرامتونه او خوارق دعادات کښلي واو ډیر ډیر اشعاري هم رانقل کړي ولسنو روشاعرانو او ځینو شعرو څخه دغه شعرما ځپل پلار له خولي واوریدي چه د شیخ بستان رحمة الله علیه دی

شعر چه بدلدي بولي

اوښکې مې څاڅي پر ګریوان یو وار نظر که پر ما — راسه ګذر که پر ما

دمینې اور دی زمانه کې وریت په انګار کینا — ښې تار و نار کینا

خود به ویلیږم چه مې زړه پر تا مفتون کینا — ځان مې ژبون کینا

اوښکې مې څاڅي پر ګریوان یو نظر له پر ما — راسه ګذر له پر ما

وکه نظر زما په حال چه پروت رنځور یمه تل — پویر ناسور یمه تل

لړزه مې څاڅي وینې سور یو بنوخیل یمه تل — په اور جلبل یمه تل

اوښکې مې څاڅي پر ګریوان یو وار نظر له پر ما — راسه ګذر که پر ما

له درد سوز تل ناري او غلبلې وهمه — کړیږي سوزي د تبه

یو آن مې چیرې نه آرام نه تیکاو نه دی یم — نه راحت کړمه نه یم

اوښکې مې څاڅي پر ګریوان یو وار نظر له پر ما — راسه ګذر که پر ما

د خوږ بوز یمه لحال ته دی ای باد د آګاه — یې د بې وزلو همراه

د خیال عزت پروی بستان ته کړه د مهر منسند — کړې له ننا د ګوا بند

اوښکې مې څاڅي پر ګریوان یو وار نظر له پر ما

راسه ګذر له پر ما

ذکر د امیر افغانی شیخ رضی لودی علیه الرحمة پلوه سره یه دی چه کامران خان ابن
سدو خان پښتنه ر صفا کښې په ۱۰۳۸ سنه هجری قدسی علی صاحبها التحیة والصلوة والسلام یو کتاب
وکیښ چه کلید کامرانی ئې نوم و بیدی کتاب کامران لکاب د شیخ احمد ابن سعید اللودی چه په
۶۸۶ سنه هجری ئې کښلی او نوم ئې اعلام اللوذعی فی اخبار اللودی دی هسې نقل کا چه شیخ رضی
لودی د شیخ حمید لودی وراره و چه شیخ حمید ملتان پاچا سو نو ئې خپل وراره پښتنخوا ته ولیږی
چه خوغوره خلق د اسلام دین ته راولی شیخ رضی راغی دوه کال دکسی نیغرو گرنه بیه او هلته
ئې ډیر خلق مسلمانان کړل نقل هسې کا نصر د شیخ حمید زوی چه ملتان کښې د ملاصدو لدا ستاځو
سره کښېنوست او لا دی ځوڼی د الحاد او اسماعیلی فرقی عقاید زده کړل او وګرځیدی
د دوی په اعتقاد او ملحد سو چه شیخ حمید رحمة الله وفات سو نو ئې پر ځای نصر کښېنوست
او د الحاد ترویج ئې خوره کړی او قرامطه ئې راوستل شیخ رضی علیه الرحمة چه سو چه مسلمان د
خپل تره ورنصر ته ئې دا سی پارہ کی وښل او دا ئې ستو ل

پارہ کی

د الحاد پلو رد ئې تر پښل	روښانه گوره دی زموږ وکوراوه
موږ رونلی په سر پار نه	تا پتور وتو راد د
لرغون ولی گرد هیدلی	چه دی گوښی ای اوده

معهد

سغد گروه دی اوس آره کم	چه پلرودی رناوه
لودی ستا پناه مدسپک سو	کدسرخو مو درناوه
لفر ندوبي له کہال	لودی نیزی پہ کاوه
زموبر رغاده ستا له گروه	د ورخلوی په رغاوه

شیخ احمد لودی سی نقل کا چه لفرلودی سی د شیخ رضی رحمة الله علیه غبرکوت دا

دالحاد پښور نورن سوم	زه لرغون خو لمحه نه یم
زماده ښنه هسی لورا کړی	که لمحه یم د دښنه یم
له اسلام نه تر پلمه	لورانو تحځه په ترپلمه یم
گروه می سغد لرغونی دی	اوس هم کرو پلرغونه یم
داسلام پر سک په ظلم	د لورانو ته تیاره یم
دلودی نه وی سنتی یم	د حمید له لوی کنهال یم
لورانی د بنن چه دایی	زه لگروه په آره یم
دای لورتاسی دره سوی	زهوسن ستاسی په تله یم
ودبښو دیناوی مغزه	زه لودی یمه څوزه یم

غفرالله لماضیین ورحمة الله علی الذین اعتصموا بحبل الله المتین

ذکر د مقبول ربانی شیخ عیسی مشوانی رحمة الله علیه اسی نقل کا خواجه
نعمت الله هروی تو سنړی پښتون افغانی کښی چه په دوران د جهانګیر پادشاه
ی وکښلی چه شیخ عیسی بقوم مشوانی و او په دالمړی سکونت کا او د شیر شاه سوری
په وران کی ژوندی وسهی وایی چه شیر شاه ته خلقو وویل چه عیسی شراب خوری
کا شیر شاه خلق وګمارل چه ولاړ سی او د شیخ شراب وویني چه راغلل شیخ هیڅ
کور ناست و صراحی او پیاله ورته پراته وه خوا ئی د پادشاه سړی چه راغی وی ویل
ای شیخ په دی پیاله کښی څه خوری شیخ ویل را سه ته هم ی وخوره سړی چه صراحی بر که
په پیاله کی شیدی را توی سوی ولاړ سی او دغه حقیقت ی پادشاه ته بیان کا
نعمت الله کښلی دی چه شیخ عیسی رحمة الله علیه لوی ولی و او د خدای په توحید کی ښه
مشهور نه په پښتو او فارسی او هندوی ویله د پښتو یو شعر دا دی

هیڅ کار کړی هیڅ انکار کړی || کله باد ز سیم کله می خوار کړی
تخو تا دری په صفتونو || کله می نور کړی کله می نار کړی

عیسی حیران دی پیدی شیونو
کله می یار کړی کله اغیار کړی

هیمز

ذکر د سلطان السلاطین سلطان بهلول لودی علیه الرحمة الله الولی

په مخزن افغانی کښې نعمت الله رحمة الله علیه لیکلی دی چه ملک بهلول د ملک
کالا زوی و په هندوستان د سلطنت لوا یې لکه کړه او د هغه ملک لودی
طایفې تخت و بهیرې زمانې دی لودی ټبر سلطنت ها پیهند رکښې ملک بهلول په
سرهند د اسلام خان تر وفات را هسې استقلال وموند او تر جنګونو په وروسته د
پر دهلی خطبه او سکه ووهله پانی پت او لاهور او پانسی او حصار او ناګوری
د ملتان تر شند و پوری ونیول او د هند والو د راجه ګانو سره ی سخت جنګونه کړل
او اته دیرش کاله ی پر هندوستان سلطنت وکا او د دیر عادل او عالم پادشاه
په کال ۸۹۴ هجری قدسی وفات سو الله دې وایی

بهشت صد و نود و چهار رفت از عالم
خدیو ملک ستان و جهان کشا بهلول

د سلطان بهلول علیه الرحمة وفات په تبد د جلالی قصبه کې و او محمد رسول
ملا توال هونک چکیل بیاض کښې لیکلی دی چه په هندوستان د برستې پوسم
خلیل خان نیازی هسې رباعی انشا کړه او د سلطان بهلول پادشاه
په مجد کښې ووېله

رباعی

خمری اوریځی ژاړی له پاسه ـ کو لیه بوغ تا بیلتون له لاسه
په سعد لوښی کوبه بېجول ستا ـ دامرحبا کاستا زموږ هواسه

سلطان بهلول رحمة الله علیه په دا رباعی دلغو بزه په جواب ی دا رباعی سمدستی وویله

رباعی د سلطان بهلول

ملک بزرعون کیرم په درکړه راسه ـ ګوره اوریځی د داد له پاسه
خول می د عدل به دروړون دک ـ جهان بزیب موی زما له لاسه

ذکرد خان عظیم مکان خوشحال خان بیگ علیه الرحمة

محمد رسول بزنګ بچخیل بیاض ﴿۱﴾ کی کښلی دی چه خوشحال بیگ دشهباز خان ختک زوی و چه په سنه ۲۲ نلمه هجری پیدا سو او دا افغان خوامرنی او غښتلی و خوشحال بیگ څو کال په هندوستان بندی ؤ او بیای له مغو سره د بیری جګړی کړی او دا اورنګزیب باد شاه سره ی تر مرګه دښمنی وکړه او په دعوتا وکښی مرسو نقل دا چه خوشحال خان بیگ دختکو سرداری کړی له او هم ډیر زاهد ی درلود چه لقول شاعران و او بخپله خوشحال بیگ هم دغزلو دیوان لرسیده چه د ده

غزلونه

رباعی

خمری اوریځی ژاړی له پاسه کوله باغ کا بیلتون له لاسه
په سغه لونی کوبه یځول ستا داهر چیا کا ستا زموبه هواسه

سلطان بهلول رحمة الله علیه په دا رباعی ولغو بره په جواب ی دا رباعی سمدستی وویله

رباعی د سلطان بهلول

ملک بزرعون کیږم په ورکړه راسه تورہ اوریځی د داد له پاسه
خول می د عدل په دردرون دی جهان بزیب هومی زما له لاسه

ذکرد خان علیین مکان خوشحال خان بیګ علیه الرحمة

محمد رسول بزنګ بخیل بیاض ~~ی کښلی دی په خوشحال بیګ د شهباز خان
ختک زوی و چه په سنه ۱۰۲۲ نهه هجری پیدا سو او دا خان خو امری او غښتلی و
خوشحال بیګ خو کال په هندوستان بندی و او بیا ی له مغولو سره ډیری جګړی وکړی
او دا ورنګزیب پاچا سره ی ترمرګه دښمنی وکړه او په دغو تاوکښی هرسو نقل
کا چه خوشحال خان بیګ د ختکو سرداری کړله او هم ډیر زاهد ی درلود
چه لقول شاعران و او بخپله خوشحال بیګ هم د غزلو دیوان لرینده چه ده

غزلونه

غزلونه ډیر منډ دي او ملا هم شل هم په شعر وایي او قصایدي هم ئي نقل کا چه
خوشحال بیګ د مغلو په بندکښی وو او په د رنتهبور کوټ بندی وی نو پښتانه ختکان ولاړل
او دوی اوس مغه بنه پخاني راديوست اورنګ زیب لښکو پخپله ځو چه دی خپل وطن
ته راورسیدی او مغه پادشاه سره ی جنګونه وکړل د خوشحال بیګ دلی الکوړه نومیږی
او هلته ختکان پراته دی پخپله خوشحال بیګ عالم او شاعر ښه سو روایت کا
چه خوشحالبیګ هر ایه په فقه کتبی په پښتو را واړوله او ډیر کتابونه ی وکښل
او په کال سنه ۱۱۰۰ هجری وفات سو محمد رسول هو [illegible] پخپل بیاض د خان علمین
ملان داسی شعرونه کښلی دی چه زه ی هم په دی کتاب نقل کانم

غزل

پکاته کاته می سترګی په خاته شی ‏— چه خبر دی د راتلو د یار نه وشی
ته خو اوس لساندواړی سرور شوی ‏— دا ښکاریاری د هم ګنده ی [illegible] شی
چه دیدن د محبوب وکړم تازه شم ‏— لکه ګښت په باران سره اوبه شی
کوره تا را باندی کومی کوډی وکړی ‏— که په [illegible] در څنی دروهم زړه مړی ندی شی
چارمان د مغه وقت یم دریغ دریغ ‏— که د زنی سیب ی بیا د ما پخوله شی

خپل یار ا جدایی ښې کار دی — لکه روح چه له وجود پواته شي

بخته بو بزه مدد بیار اسره وکړه — چه پښیږ کښې می بیا تللی یار اوده شي

د خوشحال سلام پوار و ښو یارانو

گندی بیا می پلید و سړی نه بند شي

وله ایضاً

که مسجد کوهی کندیر — واړه یو دی نښته غیر

یو می بیا بوند پهر ډو ښکل — چه می وکړ د زړه سیر

ښخه ځای پسیر گرزم — چه تر سر سیدي طیر

خوشحال یو دینی خوشحال لدی

و زند ور دی غیر و زنیب

ومن رباعیاته رحمه الله

چه حرمناک دی یا ترسنده وی — یاری لدو سره وسرلنده وی

د بد دپیر پیر دی پدتنگسد بلا ته — بتر تر داند شکلم بنده وی

و له ایضاً

هوښیار ښمیند په ورمو نوریا ته کا — ورموند وایم که څوک مخ را ته کا

محتاج د نورو نورو نغریو شی — سری چه خپله کتهوه با ته کا

ذکر د زرغون خان جنت مکان چه په قوم نورزی و روایت کا

دوست محمد کاکړ چه په خپل کتاب غرغښت نامه کښی کښلی دی چه زرغون خان د نوښاد

نورزی واو په کال ۸۹۱ سنه هجری مبارک ولایت هرات ته اوله سخه خای د عراق

او خراسان سفر وکا او د اوږ بکو په جنګو کی زرغون خان ښه بهادرانه او غیرت

په شیبانی خان سیستان ته ورسیدلو زرغون خان له د سره جنګونه وکړل

چه د اوږ بکو لښکر ډیر وهیل دوست محمد کاکړ سی نقل کا چه په ۹۱۲ سنه هجری

زه ولاړیم هرات ته په لجران کښی می د ملا ایوب تیمنی تحفه د زرغون خان د

غزلو او شعرو دیوان ولید چه اوراق ی و پښمیر دری سوه هم د دوست محمد کاکړ

روایت دی چه زرغون خان ډیر ضعیف سواو په ۹۲۱ سنه هجری په ډیره اوت

کښی وفات سو دوست محمد کاکړ په خپله غرغښت نامه کښی د الاندی دوه بیته چه

مثنوی د ساقی نامی دی د ده له دیوان د اشعارو نقل کړی

مثنوی ساقي نامه

ساقي پاڅه پیاله راکړه　　مرور یار می پخلا کړه

اوبه تویي په لمبو کړه　　اور می مړ پیدې اوبو کړه

پسرلي سو غنچه گل کا　　زلفي تاوي د سنبل کا

بلبلان شور و فغان کا　　کړیدي په گلستان کا

زاهد وزي صومعي څخه　　شراب پیري میخانی څخه

هر سړی په میو مست دی　　دی بهار کی گلپرست دی

پراغوښی سړي منبر دی　　د عشقو لو تنداري دی

جهان ټول سور او زرغون شو　　وچ راغه ښکلي گلگون شو

سړي ټول شور و شغب کا　　یاراني کاندي طلب ه

بهار وقت د یاراني دی　　ښه موسم د پیاني دی

لو ساقي پاڅه بهار دی　　نن ژوندون سبا رفتار دی

دنیا پاته موږ به ځو نه　　تورو خاورو کښی به یو نه

پیمانه ډکه له رحمي کړه　　بزم تو د به پیالي کړه

پچ

چې یو دم سمه آزاد | نابناد زړه مې سینه بناد
ساقي یا څه وخت د مل دی | چې جوش کې خم د مل دی
وخت د میو د ویشو دی | د پیالو د ډکیدو دی
بغه څوک او س دې جوړ دی | چې ی جام تش شلوړ دی
مستان ګرزي پیاغولښ | مستي ماندي پرغولښ
لاس پلاس دي یاراني کا | یو په بل نانه وتخزي کا
مجنون وصل له لیلا دی | د جمال په تماشا
نه غمجن ستد نه بلیتون شه | نه هجو نه خفه خوت شه
تر تاو لرزه مه راسه | ساقي یو کړی بچلا سه
ما ته بلم د ربل ولوړلا | چې یو تش مې د زړه نور سه
او مې بل د زړه یکوړ کړه | لبهر چا هر څه ی لوړه
په بل څه نوی الفت دی | هو له مهر د محبت دی
بقول اخلاص دی او صفا وی | تیاره ورکه سی رڼا وی
له زړه کم غش او غل سی | جهان هو له ګل و مل سی

ساقي ستا مهر مطلوب دی   نو بهار څکه مرغوب دی

د ستا لور پیر زو نوی   نو بهار به په څه بند وی

خوند به نه کا رنګ د ګلو   بې مستیو بې له ملو

نه به بزم بپشور تود سي   نه نغمې نه به سرود سي

جام به تش د آرزو سي   ورک به جهر او بیرزو سي

نو ساقي پاڅه بهار دی   بزم تا له امید وار دی

یاران ناست سرګي څلو دی   ستا د جام په امید نوز دی

تر هیم راسه عنایت کړه   بزم تود د محبت کړه

سر د ملو څخه ډک جام کړه   د یارانو ی انعام کړه

چه سوړ بزم هم تو دی   درتلالو غوږ وسرو دی

د جهان ویره غم هیر کا   یو دم بند په عشرت تیر کا

په پد مخ کی موبلیتون دی   لجهان سبایون دی

ذکر د الله تعالی پر رحم لو مرد دوست محمد کاکړ علیه الرحمه   د بابر خان زوی و په د

کاکړ بابا د زیارت د یاره پیکال سنه ۹۱۲ هجری ولاړ هرات ته او بیا په راغی په دوب ته

پیکال سنه ۹۲۹ هجری ی یو کتاب پښتو نظم ژبه لوم ی دی غرغښت نامه د آفتاب

په ماولیدی کاشیرین بیتونه په مثنوی لری او د غرغښت بابا قدس الله سره الکریم

حکایات دی او فرښتینو خلقوی روایات رانجج کری دی دغه کتاب زما پلار

په لوه کښی میند لی و او زه هو به کهول کښی هو کوچنیوا و زه هیو په سبق لوست

دوست محمد علیه الرحمه چیل کتاب کښلی دی په زما پلار بابر خان هم یو کتاب مشجر

کښلی و په لوم ی و تذکره غرغښت هغه وقت په بابر خان وفات سو او

زه پیر کوز نه وم هو هغه کتاب ورک سوی دا و بیا ضایع کری زه چه را غلم

د خپل پلار په ماتم سی ویر جن منوم لکه چه کتاب ورک و مانو د هغه کتاب

هجری او ریدلی او په دارو دارو ویلی وی او هم می یو څه لا هغو تحفه پیاده وی

نو ما پر خدای تو کل وکا او هغه قصی او روایات می بیا په شعر وویل خدای

تعالی جل شانه دی زما پلار سخی مشکور کا   هسی وایی کښو کلی ددی

کتاب عفی الله عنه چه ما دا غرغښت نامی تحفه د غه حکایت را نقل کری دی

حکایت له عزعنت نامي

له نیکانو روایت دی — هسې توګه حکایت دی

نور محمد کاکړ راوی دی — چې ی فیض تل جاري دی

د نیکو لو له خولې وایي — چې عنبت ی را اند بنا یي

چې کاکړ یو نیک زاهد و — لوی څښتن له تل عابد و

تل تر تل بې عبادت کا — پر دې لیاري ریاضت کا

شپې ی رڼې په لمانځه وې — په ژړا و په نادو وې

نه ی خوب نه ی خوراک و — عبادت ی ژوند و ژواک و

چې به کښېنوست په لمانځه — یا به کښېنوت په ستاینه

ورځ ی توله یقعده وه — شپه ی هم یوه سجده وه

تل ی سیر د لاهوت کا — په یوه ګوله ی قوت کا

غرق به تل په ذکر الله و — هر سبا او هر بېګاه و

یو د شپې ی عبادت کا — پر ګناه ی ندامت کا

سړی

منزگی پټتی سوی لرخوبه — په شپو شپوی دوینبتره

هسی خوب ی ولید گرانه — په غوعښت ښهی ښهانه

وایی ای کاکړ ذه وېه — لتاخوبن یمه ښکلخویه

ستا قدم زما پر سر دی — ماسوا کښی دی قرار دی

شپه وورځ دده لمانځه — دڅښتن عبادت کړنه

ولی پاته لتا نور دی — شپی او ورځی د پکور دی

خو جهاد کره پرتا فرض دی — وایم ستا دغاړی قرض دی

یوه ورځ جهاد افضل — تر ملو کلو لمانځل

څوک چه تل لمنځ وروژه کا — په جهاد به دی پوره کا

طری شره ددین بمد ادی — بیا خدمت دخلق احد دی

لتا پاته دداره دنیه — ځان خبر کره بنده نده دنیه

نوره وا خله مجاهد شه — دلوی خدای ددین قاصد شه

د خدای نور پر جهان خپور کړه — دا خدمت ی پخان پور کړه

چه دلېښې عبادت سي | ځان د خلاص له معصيت کي
چه له خوبه وېښ کاکړ سو | د غزا پر خوا نوموړ سو
زغزه غول ي آراسته کړل | د غزا عشق تيره کړل
هرات خوا ته پر تلو تلو سو | د سلطان غياث لملو سو
و يکړه هوري جهاد دن | د سلطان ملشو پيملون
څو هوري تر دنيا تير سو | د غازيانو پيتول شمير سو
په ي هلته هم وفات سو | نيغ پيښاور و د هرات سو

ميره هسي ژوندون کا نذي
مري د خداي پر رضا باندي

ذکر د محبوب سبحان عبد الرحمان عليه الرحمه | محمد رسول هوتک عليه الرحمه

مجمل بياض کښ هسي کښلي دي چه عبد الرحمان بابا په قوم مهمند و او په پېښور ي
ژوندون کا پلار ي عبد الستار نوميدی او په بهادر کلي ي ديره وه عبد الرحمان
بابا په سنه ۱۰۴۲ هجري پيدا سو او له ملا محمد يوسف يوسفزي څخه ي لوست

وکا او له معنه تحرٰی فقه او تصوف زده کړل او بیا ولاړ کوهات ته هلته ی هم
سبقونه ولوستل او بیا عالم سو په ځوانی ی دنیا پرېښوله او اکثر به په غرو ګرزېدی
او کله به ولاړ د هندوستان پر خوا او د خدای عبادت به ی کاوه د دنیا په کار و به نه
مشغول کېدی عبدالرحمن بابا یو عالم ربانی او عابد سړی و او ډېر مشهور وند ی د خدای تعالی
جل جلاله په محبت کښې ډېر وېل او په پښتو کښې به رحمان بابا مشهور سو په ۱۱۱۸ سنه هجری
وفات سو خلق ی تر اوس د پېښور په هزارخوانی کښې زیارتونه کا او ډېر مشهور ونه لولی
د رحمان بابا د بیتو او غزلو دیوان مستدام ډېر ډېر پیدا کېږی هسی وایی فقیر محمد
هوتک عفا الله ذنوبه په ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کاتبان داستول او
له پېښوری د عبدالرحمن بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل او په قندهار
کښې علما او زهاد او کتبل او اوس ډېر دی فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمن با
شعرونه ډېر لولی او خوښوی او عام خلق فالونه پر ګوری حتی چه ښځینې هم دا
کتاب ډېر وایی او خدای تعالی دده په دنیا کښې هسی برکت ایښی دی چه ډېر خوږ ځنی
زړه دارو په کا او هر غریب او محتاج مستغنی کا زما پلار هسی نقل وکا چه په
قندهار کښې د رافضی ګرګین خان جور و ستم تر حده تېر ی وکا او خلق د خدای هسی ځنی

چه د اب سول چه پسرګ خو بې سول نو دوی په کوکران کښې مغفور رحمانی برګزیده صمدانی
حاجی میرخان هو ټکنې ظالم خیل ته ولاړل او له هغه نه چاره د کار طلب کړل او لتو لو
او ویل هر دول چه دی و ییی هغه کړی هغه مغفور یوه درځ تر ماښامه له لوږو پښتنو
ځانانو او مشرانو سره مصلحت وکا او هسی ی تړون وکا چه ظالمان مړه کړی او ځانونه
له جوره ظلمه وژغوري په پای کښې حاجی میرخان علیه الرحمه ده ویل راسی چه عبدالرحمان
با با قدس سره هم وپو ښتو چه د ده دیوان ی خوص ها هسی مشرونه و بیت

زه مکتوب غندی په پټه خوله ګویایم	خاموشی ځما تیری کا تر غوغا ځما
کښت د عشق په تو ده زمکه امان چری	سمندر بو یه چه زیست کا په اوراځما

د غه بیتونه ی ولوستل هغه مغفور حاجی او لس ته وویل چه د ظالمانو کار تمام دی
ما او س د ستی خاموشی بهتره ده لتو له به په پټه خوله داکو ښښ کړو چه ظالمان
رک سی چه مناسب وقت راسی نو به زه پر تاسی ناغه وکړم هغه وقت باید ټول تیار یو
و ظالمان له وطن وباسو نقل کا چه یوه میاشت وروسته جنت مکان حاجی میرخان
د اولس میران او خانان را وبلل او په ما پخه ی جرګه کړه له او لتو لو بقرآن قسم
وکا چه د ګرټین خان ظالم له جوره ځانونه خلاص کړی پر دی وقت بیا حاجی

میرخان مغفور له رحمان بابا ته دا بیتونه ولیږل   بیت

پہ اسمان ئې ځ یت کړی پیساب و | خدای وما وته ښکاره کړی بغدمر
چه رقیب راته ترلی په زنځیر و | خپل حبیب را باندې مهربان شو بیا
په وصال یې منت بار ادم رحمان | په صدقه کښې د خپل شوق د لوی بیا

نقل کا چه د خدای په قدرت د غدور ځ پر اسمان اوریځ هم وه چه حاجی میر مرحوم
دا بیت ولیږه بغدر کړی ښکاره سو اوریځ یې لرې بسته سوه خلق هم د غه
پر الهی مدد وکا نه او بیا نو جنت مکان حاجی میرخان خاتمه وویل دادی د
خدای تعالی مهر او لطف هم زموږ ملگری دی اوس نو وقت دی چه توری نه تیکه
وکا به وا وځانونه له دښمن ژغورو بغدو چه په ۲۹ د ذیقعدة الحرام ۱۱۱۹ سنه
هجری اوس قتال سول او د جنت مکان حاجی میر په مردیه قتل او د منو قتل او
دښمنانې قتل مره کړل اوس به نو کاتب الحروف عفا الله ذنوبه د عبدالرحمان
بابا شعرونه را نقل کا

غزل

زه د اسې دیوانه د مجنون چا کړم | له رواج له رسومه بیزار چا کړم

نو بیم په د اچاری پیما ټوک | لیوني د خپل شاه په افسون یا لرم
دمی سترگی کوم بانه لو مد غمزه د | دوب هید ننندی ځکال بخون یا لرم
څوک توفیق نو د فتنو راتحه ندو | په فتنو د و سترگو مفتون یا کرم

رحمان شیخ لیځلد څانه خبر نوم
په داسی نا زبون او محزون یا کرم

ذکر د شیخ الصالح محمد صالح رحمة الله علیه سبی وایی کاتب ددی کتاب محمد چه
ملا الله یار الوزی په تحفه صالح کښی لیکلی دی چه شیخ محمد صالح یقوم الوزی و په
جلدک کښی او سیدی او عابد او عالم و چه وقت کی په تدریس تیراوه او د خلق له
ارشادی کا نقل دی چه شاه بیگ خان د قندهار صوبدار شیخ محمد صالح د غوښت
چه کابل ته ولاړ سی او هغه حلقه ته فیض و رکړی او په تدریس د علومو طالبانو ته هدایت
وما شیخ محمد صالح ورته وکښل چه ما الطمع د عزت سته او په دنیا پسی نه نغوام
زما داسی معتقد دی چه دنیا ما ته راسی نه چه زه ولاړ سم دنیا پسی که زما عزت
عزاری ما بریږد ده او په دنیا پسی ځی مد مسافر کوه چه د غه خط د رسید
شاه بیگ خان و ویل زما هم شا عزت مقصود و نه بلی عزتی سبی وایی محمد

چه ملا الله یار د خپل شیخ پنامه وکښښ کتاب چه تحفة صالحی نوم د پښتو کتاب کښی
د خپل شیخ علیه الرحمه احوال او خبری وکښلی او دده اشعاری یکښ ضبط کړل چه له هغی
تحفه دا غزل دی چه شاه بیګ تدی کښلی

غزل للشیخ محمد صالح

دیلی دینی فیض هر سبا وړم | بیهوده منت پولی د نوز چا دړم
چه اشنای د شپې نا څاپه پلاس کښیوت | روبان نه زړه یکوځل پتیلر پیما دړم
پر دنیا له تجارت نه ځواک د دنیا کی | زه د عشق پیا زار د عشق سودا دړم
دیلی لیدل درب پده بهانه کی | خزانی که دی مل جهان پشا دړم
کر پیر تحت می د سلیمان هم سور کړی سحری | عاقبت خاورو ته بند عمل پیشوا دړم

بیلا عشق خوشحالی پر ما حرام
زه صالح که پده خو له خو بڼ پرزه ژړا دړم

غزل ولد ایضاً رحمه الله

چه پرزه ی غشی څرخ سی د چشمانو | زوغ به نسی پدا رو د ستوځانو
چه نوډ تن له نخه خلاص پرزه رنځوروی | دادزړه دارو جو به نکړه حکیمانو

مګر بعد چه حبیب دی هم طبیب دی | کارسازی ګاد خوارانو رنځورانو
هیڅ اثر را باندی نکاندی عالمه | هیڅ ویل در وګوره د ناصحانو
نصیحت زړه ځواری را په نسته لوګه | زړه می وریږی په منګولو خوږ رډیانو

که صالح غندی د زړه پوهنو پایی
لو دولت پر دنیا نشته طالبانو

ذکر د مقبول ربانی علی سرور قدس سره الولی په تحفه صالح ئې نبی سی راوړی
چه شیخ علی سرور شاهو خیل لودی وو په دهندوستان پښتانو کی دیره واو خاوند د ذکر اما تو
او خوارقو په خلقو به بر کله شی لیدل په مخزن افغانی کښی هم نعمت الله هسی وای
چه شیخ لوی لوی کرامات ښکاره کړل او خلق په وګړه هیدل په تحفه صالح کی راوړی
چه شیخ بخپلو مریدانو ته هدایت کا او وعظونه اوو سوالونو ابونه بری ویل او د تصوف
مشکلات به ئی حل کول یو ورځ سوال شی وسو چه لیس ترا بر لحظه مرګی رجعتی است
مصطفی فرمود دنیا ساعتی است فخر مقصد لری زموږ مرګ ورجعت کله دایم او
مستمر دی او که دا مرګ و رجعت دایم او مستمر وی نو به حیات بعد الممات
متعدد سی او د تناسخیانو عقیده به سی ښه عارف ربانی سی جواب درکا

چه ذات ماسوا دی له بلنه ذات دا شما ثابت دی او بدلن متحلل دی بشتی وایي اَنتَ اَنتَ لا یبلانک فَاِنّ مونک فی التحلل ولیس عندک منه خبر فانت وراءه الاشیاء دغه مرگ و رجعت بدنی دی نه ذاتی او هر کله چه تحلل و موند سابقه ذرات لوی پر ځای ورپری لاحقه ذرات او همدغه تجدد دی په دنیا عدم تحقق ثابتوی او همدغه چه مصطفیٰ علیه السلام وویل اَلدُّنیَا سَاعَةٌ رشتیا کوی په تحفه صالح کښ د عارف ربانی علی سرور لودی اشعار دی په دا غزل ځنی را اخلم

غزل لعارف الربانی

محبت پیاله می نوش کړه پیچا زکی | دحق نور وبینم پسترگو دایاز کمی
د رست وطن رانه دریاب شو بی دید ان | دید می منتی مگر خدای می سبب ساز کمی
که زه مړ شم هم لگور کرم سر پورته | ناګهان چه می دلبر پورته آواز کمی
لا می سر غوڅه د رقیب پتیره تیغ سی | هم به ځم که محلا دلبر غوښت پیمهر د ناز کی
زه وبار جلا ما تاست ویو له بلبه | پر غماز د باری کا بنی د غم ساز کی
گران بلیتون به د مغو مینو وینه | چه تل ناست وی تجارت کی سره زار کی

ای سرور غماز ان شوه بی حساب
پاک الله د صورت تش بی مغز پیاز کی

دوېمه خزانه په بيان د بعضو شاعرانو په ذکر د معاصرين دي غفر الله لهم

ذکر د اشنای بزم ژرا ملا باز توخی — ملا باز توخی په التغزکېي اوسي او په

اصناف د اشعارو کښې استاد دی غزل او رباعي وايي او د شاعرانو انبار دی او زما

په محمد هوتکي سره يو ځای ملا دی قندهار ته راسي زموږ مجلس پېتو دوي او ياران د ده

له لطافت د طبع ممنون — ملا باز مبادي د علومو لوستي او په فقه شريف کښې تيار دی

له منطق او حکمت لولی او خپلو شاگردانو ته دي درس ورکوي د محمد په ابتدا د ځوانۍ

تللی و او په هندوستان ی له استادانو لوست کړی — **لطيفه**

يو له ورځو ملا باز راغی او په قندهار کښې زما ميلمه شو د ستي ما چرگ حلال کا

او طعام ی تيار په دسترخوان راغی ملا باز سبي شعر ووايه

شعر

پر لور د ورځې ...	د باز برخه يو چيچي دي
د باز ښکار ... د غر	او سي مي بس ا پېنکي ورځ دی

ما ژر چه سپين ... هم حلال کا او د ميلمه ميلستيا ترې پوخ کا ... دا ... له

... ده د بلبلو ...

بدله

راسه پر خنګ راسه لیلی تر می نزدی سه لول — بیمه نرخی چه می ونه نجتی بچو بزکه ګو،

راسه پر خنګ راسه لیلی ولی لماکړی بلیتون — داستا لعمده زړګی دی پسرد وینو کلګون

که بر خو تښتم نه پریږدی می ستا د عشق شواخون — زه نخلا میرم لغاز یه لیږدنه پتیل

راسه پر خنګ راسه لیلی چه دیرزه کم ملهم — داستا په عشق کی می ترشا کا دونیا داره غم

حساب کتاب مجلس می واره کا ستا مینی برهم — لاړود رتر لښته چه دکښیوم درو یکو کل

راسه پر خنګ راسه لیلی چه دیرزه کم یو ری — کجل دره انځد واړی سترګی بدزدیم زړی

لیدل به ستا دمخ کوم اندیښنی نکم نوری — یکار می نه دی ستا دمخ دجنت زیری ګل

راسه پر خنګ راسه لیلی چه سره وکړو خوالد — پر تا مین یم بی لتا می نشته هیڅ اندیښنه

زه دغره باز دمم نا بندی کړمه قفس کی پر ځد

یو وار می خلاص که چه بیا زده کړم دوزرخیرول

ذکر د افضل لمهاجرین ظل الله فی العالمین شاه حسین لازال ظلال سلطنته من مفا

المسلمین پادشاه جمجاه ظل الله شاه حسین بنا لم خیل ابن میرزا ... معفور جنت سان ... میرخان زوی ... چه اوس هیڅوک ئی لبنی پادشاهی ده اوپښانه ئی پیسو ری آنم ...

پادشاه عالم پناه په ۲۳ د ربیع الاول په سنه ۱۱۱۴ هجری پیری لبنی دکلات

پیدا شو څه وخت چه حاجی میرخان د بیت الله او اصفهان سفر وکا پادشاه ظل الله کوچنی د
اولاد اعلم علما ملایار محمد هوتک څخه ئی درس ولوست او تر دوولسو کلو پوری د عمری
د فقه او تفسیر او منطق او د بلاغت کتب ولوستل او په قندهار کی لږ پلار ئی مصالح
د امور زده کړل او په جنت مکان حاجی میرخان په ۲۸ د ذیحجة الحرام سنه ۱۱۲۷
هجری په قندهار کښی وفات شو پادشاه ظل الله ئی ورلس کلن واوه خپل مشر ورور شاه محمود
خان سره و میر عبدالعزیز چه د حاجی میرخان ورور و پسله مرګ د ورور په قندهار کښی
مشر شو خو داوس رعایت ئی کم کاوه په سنه ۱۱۲۹ هجری د شپی د ناسرخ له قهر له
بام څخه شو او ورا ولوید مړ شو د خپل عم تر مرګ وروسته میر محمود په قندهار کښی
پادشاه شو او د سیستان او کرمان پر خوای لښکر وکا په سنه ۱۱۳۵ هجری چه د
اصفهان د ضبط د پاره ولاړ په قندهار کښی خپل ورور پادشاه ظل الله شاه حسین پادشاه
کا او د قندهار او فراه پادشاهی تر غزنی شاه حسین ته ور کړله او دلته لو غلجو ملکانو او
خانانو او مشرانو شاه حسین په خپله پادشاهی ومانه او خطبه او سکه ئی په نامه مبارک
جاری شوه شاه حسین ادام الله دولته ډیر زور او مشهور پادشاه دی د رعایا
پرادرسی او د داد خواهانو فریاد اوری د ظالمانو لاس کوتاه دی او د رعیت آرام دی

د پادشاه عالم پناه دربار کښې تل علما او صالحان لاړل افضل العلما ملا یار محمد هوتک
چه د پادشاه استاد دی لوی عالم دی په فقه کښې ی کتاب مسایل ارکان خمسه کښلی
دی بل لوی عالم د دې عصر چه د پادشاه ظل الله تر ظل لاندې ژوند کاوه قدوة د جامع
الامام ملا محمد یونس توخی دی چه د ملا محمد اکبر فرزند دی او د علومو تدریس کاوه او کتاب
د جامع فرایض ی کښلی دی په پښتو او بل عالم جامع الکمال ملا زعفران ترکی دی چه
مدار المهام او صدر الافاضل دی او د پادشاه ظل الله کین لاس دی او د محمد چه د
پادشاه زوی دی استاد هم دی ملا زعفران په حکمت او ریاضی او طب کښې استاد دی
او گلدسته زعفرانی ی په حکمت او طب کښې کښلې ده دا کتاب ما هم لیدلی دی او مطالعه کړه
د پادشاه ظل الله شاه حسین په جنگ کښې مړنی دی او په میو لو د ممالکو کښې گرندی
غلجو طوایف تر غزنی پوری د ده پادشاهی ده او په ابدالیو کې تر سیستانه او هرات
حکم کا په ۱۱۳۸ هجری شاه حسین لښکر وکا او د بهادر خان په سالاری
د شال او سیوی ولایت فتح کا او په کال ۱۱۳۹ پنځله پادشاه ظل الله تر
دیره جات فتح کړل او تر گومل ی ضبط کړل او س پر د غو ځایو لو ملکو د ده سکه چلېږي
ده او حکم ی ساری، پادشاه عالم پناه په ارگ کښې د قندهار سخه قصر چه تاریخ با

بلند ټینو . په دغه ورځ دربار کاږکتب خانه کښې او په مجلس کښې علما جمع کیږی او شعرا او فضلا

لیتږلوی زه محمد هوتک کاتب ددی کتاب هم په دی مجلس کی یم او پاچا شاه ظل الله اشعار

او ابیات پښتانه کابه هم او کتاب د دیوان ی مرتب سوی دی کله په پښتو اشعار وایی

او کله فارسی ترې نه هم میل کا او کتاب ~~د دیوان~~ استاد العلما ملا یار محمد ته دی قراءت کا

په سهو و سقم ئی زایل کا او د پاچا شاه په اشعار و کښې لږ سهو لیده شی او علما ی ټول

په بلاغت او فصاحت قایل دی او سماع ته مایل هسی وایی محمد کاتب ددی کتاب

په یوه ورځ د پاچا شاه ظل الله په قصر کښې مجلس و او فضلا او علما سره راټول ناګاه

احوال وسو چه قاصد راغلی دی او پیغام ی لیږلی ځای را وړی ملا زعفران

د بانډو ولری یو ګری پس بیرته مجلس ته راغی او زیری د فتح د شال او د ب ی

وکا او دا پښتو ی عرض کړل

بیت

صین پاچاه دی ته ندا کوری	چه ی فتح په بنګرو د ب و شال کا
دا زیری ی را وړی دی حضور ته	نو زعفران انعام په سر زعفرانی شال کا

شاه عالم پناه ترز زعفرانی شال ورکا او په دغه مجلس ی ټول حاضر شوند شال ورته

شال او پاچاه په انعام سربلند سول هسې وایی محمد کاتب ددی کتاب چه

د پادشاه جهان پناه اشخاص ډیری او د وال دزل خوږدی دلته یو غزل ... د
مجموعه د کلام امول علوم ... خان خو ...

غزل شاه حسین دامت سلطنته

بلیاندې دغو بیچاو نیچور کړم | په تیاروکی د هجران ی تا دور کړم
بلیاندې یې بې او بکلي د خپرې کړي | تا د فکر په کرداب کښ تل غبور کړم
د فراق پیری می تبیوت و مری تر | په جهان کښوې رسوا که منصور کړم
په وصال دې یم ناب دیمه دلبری | د بلیونو فکر په زړه کښ ناصبور کړم
د ماهو عشق می وخوړ په ځګر کښ | غمازانو په غمزو غمزو مهجور کړم

خلق یاد زما د عشق په لیونو کا
زه حسین محبت ... مشهور کړم

ذکر د شاعر شیوا بیان محمد یونس خان سبی روایت کا زما تر بو رحمت پنوک
چه په سنه ۱۳۰ هجری پیښور ته تللی وم د هلته می پیچنیر کښ محمد یونس خان شاعر
شیوا بیان ولید او ډیر اشعار می سماع کړل محمد یونس په دغه کال لو یرش من تو ان و
او په قوم موسی خیل و چه پلار نی نور محمد خان له موسی خیلو څخه د کسی و اب سر دار علم

او په خیبر کښې د سید د محمد یونس په پېښور کښې علمونه او کتابونه لوستل او په هغه وخت چه
عبدالرحمان بابا ژوندی و د هغه شاګرد سو او د شعر دیوان ئې جوړ کا چه ډېر غزل
لري. د خیبر کښې معروف سو محمد یونس مهمان دوست او کریم سړی دی مسافرین ئې
[illegible] کښې پر ډېره اسې اوکړ شوک عالم او شاعر دده کره ورسي ډېر قدر ئې کا
او په عزت داري او مېلمه نوازي کښې همت کا رحمت هو ئې حکایت کا چه محمد
یونس پخپله د ډېره کښې ډېر باقدر کرم او ډېره ورځې ماته ویل چه یو ورځ شپه دواړه
[illegible] نو [illegible] په هغه یو [illegible] ئې زما عزت وکا او ډېره ورځ [illegible] اشعار [illegible]
[illegible] د هغه دوه غزل رحمت دده له دیوان ماته راوړل چه په دې کتاب کښې ئې
[illegible] عدم [illegible] تعالی د محمد یونس خان ژوندی او معزز لري

غزل

[illegible] باندې سر چا — لکه یا موند شیرین وصل د [illegible] چا

[illegible] بت [illegible] ستا له حسن روزي شوی — په دا حسن بلیه شمس و قمر [illegible]

[illegible] پلد [illegible] صبر رهبر شوی — راکاوه به د دلبر د نور خبر چا

[illegible] استاد [illegible] بوی [illegible] شام شوی — دوباره به یاد وال مشکو عنبر چا

بروهار

په وصال لیسی خوناب نستر کوو ری | په آسمان ختل بیا سونو د ملتر چیا
بیا بیسته لیلی لا مینو می پکور بش | څو جدا مله مجنون نشی لدبر چیا
جدایی بی حق ورتریخ لا لکنه بیره | چه نو تشلی دوصال شهد وشکر چیا

ولرم تدی کاروسپاره یونس
مقصود شهد دی مینه لی په هنر چیا

غزل ولدا ایضاً الااسد عکمر

شیرین یار خاوه والیه ستر لو تور دی | چه ... نور ... ده کور دی
په دنیا کبن چه بنیاد د آشنایی ده | پیغمد جدایی په وزی پو ...
واویلا د عاشق لدیر مینه | لیونی عاشق ویزارند پید روهور دی
که بیدرد شانظار زیان دکوم دی | شا دحسن خبر ملی لوریلو دی
د محنت جوری د دروندو باندی کښیښو | خوار عاشق تر دراند بار رانددی نسو دی
بادی بیم د تخت و اورد ته نزمیری | هغه څوک چه ستا د عشق پر برق سوی دی
